ژباړه: بازمحمد ساپي مسکو ، مارچ،۲۰۱۰

# د روسيې او پښتنو فکتور
## د نېکيتا مېند کووېچ لیکنه

د بهرنی هېوادونو په نظر د معاصر افغانستان په سياسی او اجتماعی حالاتو( ملی فکتورونه) ځانګړې رول لری ، نن سبا د افغانستان په سېاسي لوبه کې سېاسی، سېمه يزې ډلی دومره ډېرې دې چې سړې نه شي کولاې د معاصر افغانستان سېاسی ډلی او ګروپونه سم ارزېابی اود انداز ټاکنه ېې و کړی
د شنونکو دا ارزېابې سمه ده چې وايی هغه سېاست چې د روسېی واکمنان يې د ختيځی اسېا اوافغانستان په باره کې لری ، د پښتنو په مشرانو اوسېاسي ګروپونوبه باور وکړی اوکه نه.

پښتانه هغه قوم دې چې د معاصر افغانستان په تاريخ کې تل جوړونکې رول لرلې دې ، او داهم پټه نه ده چې د افغانستان په تارېخ کې اکثره واکمنان پښتانه تېر شوې دې ، شاهي کورنۍ هم پښتون قوم ته منصوبه وه او په اخرو کلو کې د حفيظ الله امېن نه نيولې تر ننې جمهوررېس حامد کرزي پورې ټول پښتانه و، د زياتو تحليل ګرانو په نظرنن د معاصر افغانستان په اسلامي جمهوريت کې پښتانه اقليت دی په داسې حال کې چې په افغانستان کې اکثرېت( ۴۰ فيصده ) پښتانه دی خوپه سېاسی ډګر کې د نورو اقلېتونو په پرتله په دولت کې کمه ونډه لرې.
د روسېی دولت دپښتنو د سېاسي ګروپونو او اجتماعي ټولونو، په ځانګړي توګه د راديکالو( سخت درېزه) پښتنوپه باره کې کوم ټاکلې سېاست نه لری، د هغه وخت نه چې مسکو د تاجکانو او اوزباکانو سره تارېخي عننوې دوستې پېل کړې د پښتنود مشرانو او سېاسي ډلو سره ېې مناسبات شړېدلي دې ، همدا اوس چې د روسېی واکمنان د پښتنو د مذهبي مشرانو او سېاسي ګوندونو سره ددوستې هلې ځلې پېل کړی ، امرېکا او دمنطقې هېوادونه چې د افغانستان په سېاسی لوبه کې ورګډ دې، وارخطاء دې اود پښتنو د مشرانو اوسېاسي ګروپونو سره د ډيالوګ او دوستې مخالف دې او په مخکې کمرې(ګړنګونه) رارغړوی.

ددې ډيالوګ لمړنی نښې نښانې په ميډيا(ډله ايزورسنيو) کې را پېدا شوې مخکې له دې چې د نښو نښانو نتېجه ګېری وشی لمړې باېد د رادېکالو (سخت درېځ)، پښتنو، او طالبانو سره د دوستې لارې چارې ومونډل شی،
دا ډېره مهمه ده په ګوته شی چې طالبان په افغانستان کې بواځنی قوت نه دی بلکی په طآلبانو کې نور سياسي وتلی شخصيتونه چې هم د دولت سره په اپوزېسون کې دی او هم په دولت کی واکمن دی ،د همدې امکاناتو په اساس د روسېی واکمنان غواړی د پښتنو مشرانو اوطالبانود ګروپونو سره اړېکی ټېنګی کړی ، زمونږ په نظر دا کار هم مهم او هم د پاملرنی وړ دې،سره له دې ېېا هم اکثرآ شنونکې په ډېر احتياط ددی اطلاعاتوسره برخورد کوی ، هغه اوازې چې وائې روسېی دولت په مرکزی اسيا کې دمسلمانانو د جنګيالېو سره ملاتړی دی ځما په نظر سمه نه ده .

کله چی د پاکستان په مشرتابه کی سياسي بدلون راغی داسې اټکل کېده چی د طالبانو مقاومت به کمزورې شی، خو داسی ونه شوه بلکی د پاکستان او افغانستان په سرحدی پولو کې وسلوالې نښتی زياتی شوې ، او څارونکو د طآلبانو د وسلوالو ډلو د مادی مرستو نوی منابع په ګوته کړی ، داسې څرګندونی دا چی واقيعت نه لری، بلکی بې ځاېه او شرماوره دی ، د روسېی د تلوېزېون په ېوه کانال کې ېوژورنالېست ېو څو ورځې د مخه په جدې او ښکاره دا موضوع مطرح کړه چې طالبان د شمالي کورېا سره د کېماوې وسلو د پروګرام په هکله خبرې کړې دی.
زه د روسانو او ېا د شمالي کورېا د طالبانو په پوتنسيال کې ېو فلکلورې اړخ وېنم ، هغه داسې کوشش دې چې په ساده توګه د منلو وړ نه دې.
ځما په نظر په افغانستان کې د طالبانو د وسلوال مقاومت غښتلی کېدل په دی پورې نه دې تړلی چې بهرنی هېوادونه ېی سپونسران دی ( بلکې په عننوې توګه دسېاسی انډېوالانو) په وجود کې تر سره کېږی .
اوستونزه هم په بل ځای کی ده او هغه دا ده چې بهرنی وسلوال ځواکونه چې خپله ستراتېژې پلې کوې ډېره پځه د ه (( سوال – جواب ))، په پراخ لاس کلی او باندی بمباروی او بی ګناه انسانان وژنې چی د افغانانو دکېنی او بغض سبب کېږی او په مقابل کی جواب ورکوی.
څو وخته وړاندی روسېی ، قرغزستان او امرېکا د مناس د نظامی هډی په باره کی سره تفاهم ته ورسېدل او دائې ومنله چې د ناتو وسلوالو ځواکونوته به ددې نظامی هډی نه اکمالات ترسره کوی ، او هغه اختلافات چې ددوې په مينځ کې و


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

اوس نه شته،که چېرې امرېکا او روسېی دولت هر یو په ځانګړې توګه هغه کوټلې معلومات چې هرېو د خپل ځان په ګټه د افغانستان د اېکستریمستو(افراطی ګرایانو) ډلو نه لاس ته راوړی پاېلی بدی دی.

باېد وویل شې چې مسکو نن ددې ضرورت نه وینی چې په افغانستان کی د جنګ له لاری مخالف وسلوال قوت راځملی ، د جنګ په تودېدو سره سیاسی او ټولنیز بحران رامنځ ته کېږی او دولتی انسټوت چې په اخرو څو کلونو کې په پښو درېدلی دې زیا نمن کېږی، او هم د منځنی اسیا په هېوادونو کې چې د روسېی دولت سره ګاونډی دی امنیت یې خرابوی اوپرابلومونه را پیدا کوې، د افغانستان په دولت کې د مخالفېنود ورګډېدلو سره د روسانو دلچسپی په هغه وخت کې کېدای شې چې په منطقه کې حالات سمېږی او د نړېوال تروریزم د منځه وړلو ( د قفقازپه ګډون ) مرسته وکړی.
د مسکو رسمي درېځ همدا دې ، او د طالبانو سره د غېری دولتې خلکود اړیکو په هکله د چا مخ نېوی نه شو کولای ، اګر چې کوټلې اسناد شته چې د تورو طالبانو او په روسېه کې د رادېکال مسلمانانو ګروپونوترمنځ اړیکی اوهمکاری شته او هم نور زیات فاکتونه شتون لری چې په روسېه کې ( پټ ) سیاست کونکی د طالبانود سیاست پلوېان دی ، د روسانو په سیاسی کړیو کی د طالب او طالیبیزم په هکله ډېر کم خلك معلومات لرې چې په افغانستان کې کوم رول لوبوی.
د کورني جګړی د مخه طالبان خلکو د یو ځوان سیاسی تحرك په صفت چې شعار یې ملی پخلاینه او په هېواد کې د نظم راوستل وه پېژندل، او همدا سبب و چې په پښتنو کې یې محبوبیت پیدا کړ، او بریالیتوب یې به نصیب شو، کله چې طالبان قدرت تر لاسه کړ، د روسېی دولت سره وېره پیدا شوه ،چې اوس هم په تشوېش کې دی ، دا هم باېد وویل شی چی د روسانو ځینی سیاست کونکی هېڅ کله د طالبانو ،القاعدی او د چېچن د تروریستانو د تېرې پېړې ۹۰ کلونو او د ۲۱ پېړی د پیل سیاسی اړیکی له یاده نه شی ابستلای ،ځکه د هغوې اندېوالې د نن ورځی طالبانو سره پاتی ده، باېد په احتیاط ورسره چلند وشی

که د روسانود سیاست تل راوسېړو پوهېداې شو چې د پښتنو مشرانو او سیاست کونکو سره کلکی اړیکی نه لری، او باور پری هم نه کوی.
د عنعناتو سره سم ډېر وخت روسانو خپلی اړیکې د تاجکو او اوزبکو سره ساتلې دی دا اړیکی تارېخی رېښی او جرړی لری چې د شلمې پېړې د ۸۰-۷۰ موکلونو کې رامینځ ته شوی دې چې په هغه وخت کې د پښتنو سیاستوالو د روسانو خواستو ته جواب نه ورکاوه
د روسانو او پښتنو د مناسباتو خړ پړوالې هغه وخت زور واخست کله چې ۱۹۷۹ کال کې دېکتاتور حفیظ الله امېن د واك نه لری کړاې شو، حفیظ الله امېن چې په ختېه ( پښتون) و،خو مناسبات یې د روسانو سره د نا سم سیاست په نتیجه کې را پیدا شول ،اول یې نورمحمد ترکي وواژه او بیا یې غوښتل چې په خپل سر د امرېکا سره لاره یوه کړی.
د افغانستان د اشغال په وخت کې روسانو په افغانستان کې ( تاجك او اوزبك) د خپلوموخو په ګټه استعمال کړل، په دې هکله یې دستور ورکړی ؤ، چې د کلواو د باڼدو دخلکو سره اړیکی ټینګی کړی، اګر چی د روسانو دې سیاست کومه نتیجه ور نه کړه او ګډ وډ شو ، د شوروې اتحاد د وسلوالو ځواکونو دې سیاست په افغانستان کې د قومونو په منځ کې اختلافات رامنځ ته کړل ، چې اوس هم دغربیانو زیا ت تحلیل کونکی د طالبانو حرکت د پښتنو اکثرېت بولی .کله چې طالبان د کورنی جګړی په جرېان کې را پیدا شول ، روسېی او د منځنې اسیا هېوادونو په شمالی ټلوالی تکیه وکړه، چې بیا هم اقلیت عمده رول لوباوه ، د مسکو او شمالی ټلوالی دوستې یو مجبورېت و، ځکه پښتانه او طالبان د پاکستان او عربې هېوادونو په لاس کی و، او د شوروې اتحاد له پاره چې په حالاتوباید حاکم اوسې یو لاره وه، او هغه د شمالې ټلوالې سره دوستې وه چې دهغوې په وجود کې خپل هدف تر سره کړی.
په حقیقت کی دا عمل چې وزن یې نه لاره ،سیاسی ا و تاکتیکی مجبورېت وچی په ۷۰- ۹۰ کلونو کې مسکود تاجکو او اوزبکوسره لاس یو کړ.
اوس په افغانستان کی سیاسی کلتور او سیاسی عنعناتو ماهیت تغیر خوړلې، ډېر سیاسي ګوندونه د قومی چوکاټ نه ځان را باسی، او د ټولو قومونو ملاتړ د لاس ته راوړلو هلې ځلې کوی .
دا په دی مانا چی په بهرنی سیاست کی د افغانستان نړېوال ملګری ورځ په ورځ راکمېږی ، ددې امکان شته چې د افغانستان ستراتېژی په یو محدود قومی چوکاټ کې پاتې شې، په دې خاطر د افغانستان د سیاسې حل لارې د راپیداکېدو په هکله امرېکا، روسېه او اوروپایی اتحادیه اړه ده چې د ټولو قومونو سره اړیکې ټینګې کړي .
په داسې شرایطو کې مسکو مجبور دی هغه لاری چارې ولټوی چې په نړېواله کچه او هم په افغانې ټولنه کی نوې سیاسی اندېوالان چې د دوی سره یی نظر او لاره یوه وی راپیدا کړی، او که بربنډه یی ووایود ( روسېی ـ پښتنو ) (هغه پښتانه چې د روسانو د سیاست پلوېان دی)
که په رېښتیا د روسېی دولت د ا نوی سیاست په افغانستان کی په مخکی وړی د دی معنی نه لری چی د تارېخی دوستانو (شمالی تلوالی سره ) سیاسی مناسبات شکوی څرنګه چی تجربه ښایی، په اوس وخت کی د روسېی دولت سیاسی اله(وسیله) د افغانستان او واشنګټن سره د اړیکو لرل دی ، روښانه ده چې په منطقه کی د روسانو درېځ د افغانستان د سیاسی ګوندونو او ټولنیزو سازمانونوسره تر ننه ډېر کمزوری دی او په وړاندی یی فعال کارهم نه کېږی.

---


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاریٔ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ